# د کتاب نوم : زړه راښکونکي خبرې

## ليکونکي: عبدالباســــــط حـــنيف

د چاپ کال : 2022

د چاپ وار : دويم ځل

د اړيکو شميره : 0093731412296

ټيليګرام :***@abdulbasit913***

Ketabton.com

Hanif Softwear Company

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یوه وینا

د یوی وینا لپاره یو ویونکی بسنه کوی

## یوه ډالۍ

مرګ د مومن لپاره یوه ډالۍ ده

## دوه کسان

دوه کسان د دین او هیواد دښمنان دی

۱/ هغه عابد چی علم نه لری

۲/ هغه پاچا چی صبر او زغم نه لری

## رضا په دوه ډوله ده

۱/ الله جل جلاله له خپل بنده څخه راضی کیدل

۲/ د بنده د الله جل جلاله څخه راضی کیدل

## دوه شیان

له ابو سعید خدری رضی الله عنه څخه روایت دی هغه وایی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چی په مومن کی دا دوه صفتونه نه شی یو ځای کیدای

۱/ بخل ۲/ بد اخلاقی

نړۍ دابنسکونکی خبری لیکونکی: عبدالباسط حنیف

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوه انځورونه

ادب او بی ادبی زموږ په داخل کی دوه انځورونه دی

۱/ ښکلی او په زړه پوری

۲/ بدرنګه او بوږوونکی

## دوه شیان

د کورنیو نیکمرغی په دوو شیانو پوری تړلی ده

۱/ مینه ۲/ ادب

## دوه توری

د هیلی او کامیابی تر منځ دوه توری موجود دی

۱/ تلاش ۲/ چانس

## دوه شیان

نیکمرغی په دوو شیانو کی ده

۱/ الله جل جلاله د حکم احترام کول

۲/ د الله جل جلاله په بندګانو شفقت او مهربانی کول

## دوه میرونه

په نړۍ کی دوه ډوله میرنه وی

۱/ چی د ښځو میره وی ۲/ چی د میرونو میره وی

ژباړن: دابسکونکي ... عبدالباسط حنیف

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوه انجونی

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چی هر هغه څوک چی تر بلوغه د دوو انجونو کفالت او ساتنه وکړی د قیامت په ورځ به له ما سره د منځنی او شهادت ګوتو په څیر نږدی وی

## دوه ښځی

له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی هغه وایی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی هغه څوک چی د دوو ښځو څښتن وی او د یوی په پرتله بلی ته ډیر میلان ولری هغه به د قیامت په ورځ په داسی حال کی راپاڅیږی چی یوه خوا به یی زوړنده (فلج)وی

## دوه ډوله مهاجر

مهاجر په دوه ډوله ده

۱/ هغه چی د الله جل جلاله د رضا او خوښی لپاره د خپل کور کلی او وطن څخه هجرت وکړی

۲/ هغه چی د الله جل جلاله د رضا او خوښی لپاره له ګناهونو څخه هجرت وکړی

## غفلتونه دوه ډوله دی

۱/ د رحمت غفلت
۲/ د دښمن غفلت

## په ټولو بد خویونو کی دوه ډیر ناوړه دی

۱/ ډیره بخیلی
۲/ زیات بی زړه توب

## دوه وږی هیڅکله هم نه مړیږی

۱/ د علم او پوهی وږی
۲/ د دولت وږی

نړه رابنیکټی خبری لیکوټی: عبدالباسط حنیف

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دوه شیانو په اخیستلو کی د ډیر نرخ پروا مه کوی

۱/ هغه کتاب جی خوبن دی شی ۲/ هغه درمل چی تاته ګټه رسوی

## دوه خویونه ډیر ناوړه دی

۱/ د الله جل جلاله سره شریک نیول

۲/ مسلمانانو ته زیان رسول

## دوه خویونه ډیر غوره دی

۱/ په الله جل جلاله ایمان لرل ۲/ مسلمانانو ته ګټه رسول

## دوه شیان د الله جل جلاله غوره نعمت دی

۱/ په دنیا کی علم ۲/ په اخرت کی ببننه

## دوه خبری

هوښیار سړی د مصیبت پر مهال خپل ځانته په دوو خبرو ډاډ ورکولای شی

۱/ پاپاتی د خوښی ځرګندونه

۲/ له ستونزی نه د خلاصون هیله او تمه

ټره رابښکونکي خبري لیکونکي: عبدالباسط حنیف

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوه شیان

ناپوه سړی د ستونزو پر مهال له دوو شیانو څخه پوزی ته راځی

۱/ له بی شمیره اسرو سره هیلی او امیدونه تړل

۲/ د مچ له وزر څخه ځانته غر جوړول

## دوه مسلمانان

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چی کله دوه مسلمانان د روغبړ لپاره سره لاسونه ورکړی وړاندی له دی چی الله په امانی سره وکړی د دوی گناهونه بخښل کیږی

## دوه خویونه

لقمان حکیم رحمه الله وایی په کوم تن کی چی دوه خویونه وی الله جل جلاله له هغه سره مینه او محبت کوی

۱/ تقوا　　　　۲/ اخلاق

## دوه شیان

انسان پوره کوښښ کوی او خپل ټول تدبیرونه غوره کوی او کله چی بریالیتوب ته نږدی شی بیا دوه شیان د کامیابی په منځ کی حایل (خنډ) کیږی

۱/ مرگ　　　　۲/ تقدیر

زړه راښکونکي خبرې لیکونکي: عبدالباسط حنیف

(c) ketabton.com: The Digital Library

## درې نجات ورکوونکې خویونه

۱/ په پټه او ښکاره له الله جل جلاله څخه ویره

۲/ په رضا او غوسه کې د حق وینا

۳/ په مالدارۍ او بې وزلۍ کې منځلاري

## درې هلاکوونکې خویونه

۱/ د خواهش پیروي

۲/ د بخل منل

۳/ یو چاته ځان لوړ ښکاریدل

## درې لارې

روزنه درې لارې لري

۱/ کتاب لوستل

۲/ فکر او سوچ کول

۳/ له نورو سره خبرې کول

## درې مراتب

د اسلام سپیڅلی دین درې مراتب لري

۱/ اسلام ۲/ ایمان ۳/ احسان

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دري پوښتنې

په قبر کی له انسان څخه د دریو شیانو پوښتنه کوی

۱/ رب دی څوک دی

۲/ دین او مذهب دی څه دی

۳/ پغمبر دی څوک دی

## دری شیان

علی رضی الله عنه وایی چی دری شیان د انسان ژوند تریخوی

۱/ کینه ۲/ حسد ۳/ ناوړه اخلاق

## دری شیان انسان له منځه وړی

۱/ د نفس خبره منل

۲/ بخیلتوب

۳/ خود خواهی

## دری شیان

ابوبکر صدیق رضی الله عنه وایی چی له دریو شیانو څخه هیجا خیرنه دی لیدلی

۱/ عهد ماتول ۲/ معصیت ۳/ مکر

## بریالیتوب له دریو شیانو څخه ترلاسه کیږی

۱/ وړتیا ۲/ کار ۳/ راحت

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په دريو شيانو کی کموالی غوره دی**

۱/ په خوراک ۲/ په خوب کی ۳/ په خبرو کی

**د دريو شيانو نشه ډيره تيزه ده**

۱/ د دولت نشه

۲/ د حسن او ښکلا نشه

۳/ د علم او پوهی نشه

**د غلطئ دری درجی دی**

۱/ سهوه ۲/ قصد ۳/ خطا

**دری دعاګانی هرومرو قبليږی**

۱/ د مظلوم دعا

۲/ د مسافر دعا

۳/ د بچی لپاره د مور او پلار دعا

نزه رابنسکونکي خبری ليکونکي: عبدالباسط حنيف

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځلورو کسانو سره مشوره مه کوه

قیس بن سعد رضی الله عنه به خپل زوی ته ویلی چی ځلورو کسانو سره مشوره مه کوه

۱/ هغه کس چی په یو کار ډیر بوخت وی که څه هم ډیر هوښیار وی

۲/ هغه کس چی وږی وی که څه هم ښه کارپوه وی

۳/ هغه کس چی په کوم ویر لړلی وی که څه هم عاقل وی

۴/ هغه کس چی په بدن یی وینتان کم وی یاله سره نه وی که څه هم ناصح وی

## کبرجن ځلور ځانګړنی

امام غزالی رحمه الله وایی چی کبرجن ځلور ځانګړنی لری

۱/ سلام نه اچوی

۲/ حق خبره نه کوی

۳/ په لاره کی له نورو څخه دمخه ځی

۴/ له مجلس او غونډی په لوړځای کیښنی

## ځلور شیان

نیک عمل هغه دی چی ځلور شیان پکی وی

۱/ علم ۲/ نیت ۳/ صبر ۴/ اخلاص

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د هیلو د ترلاسه کولو څلور مهم شیان دی

۱/ صبر

۲/ کوښښ

۳/ توکل

۴/ توسل

## دری شیان پر مسلمانانو ضروری دی

۱/ د جمعی په ورځ غسل کول

۲/ مسواک استعمالول

۳/ عطر وهل

## د دریو شیانو درناوی کوه

۱/ د اسلامی قانون

۲/ د استاد

۳/ د مور او پلار

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د درې شيان په ژوند کې يو ځل پيدا کيږي**

۱/ ځواني

۲/ ښايست

۳/ مور او پلار

**له درې شيانو سره دوستي کول د زيان څخه خالي نه وي**

۱/ ژوند ۲/ نفس ۳/ مال

**د بريالیتوب درې پراونه دي**

۱/ علم ۲/ فکر ۳/ عمل

**درې شيان تل پاک ساته**

۱/ بدن ۲/ لباس ۳/ خيالات

**خوله په درې کارونو ورانيږي**

۱/ په سوال کولو

۲/ په پيښو کولو

۳/ په مړيني

ټوله راټولونکي: خبری لیکونکي: عبدالباسط حنیف

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په درې شيانو زړه مه تړې

۱/ په مال

۲/ په عمر

۳/ خپل کار د بل په تمه

## درې شيان خوښوه

۱/ شفقت

۲/ خلوص

۳/ ساده ګی

## څلور شيان سخت دی

۱/ عفوه د غوسی په وخت کی

۲/ سخاوت د ناداری په وخت کی

۳/ د ځان ساتل د خلوت په وخت کی

۴/ حق خبره د ويری او تمی په وخت کی

ژباړن دانشکوټي خبري ټيکوټي: عبدالباسط حنيف

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**